# د پښتو اکېډمۍ
# او
# پښتو ډيپارټمنټ ضم کېدل

رپورټنګ ټيم

تېرو ورځو کښې د پېښور يونيورستۍ وائس چانسلر ډاکټر عظمت حيات خان د يو نوټيفيکېشن نمبر-172/A Dated 17.08-2009 I/Acad. په ذريعه د يونيورستۍ مختلف ډيپارټمنټس خپلو کښې ضم کړي دي يعنې اسلاميات، سيرت سټډيز او عربي درې واړه په يو ډيپارټمنټ کښې مدغم کړي شوي دي او نوے نوم ئې انسټيټيوټ آف اسلامک اينډ عربک سټډيز ايښودے شوے دے. دغسې اردو او فارسۍ دواړو ډيپارټمنټونو له يو نوم انسټي ټيوټ آف اردو اينډ فارسي لېنګويج اينډ لټرېچر ورکړے شوے دے. پښتو اکېډمۍ او پښتو ډيپارټمنټ دواړه سره خپلو کښې مدغم شوي او سنټر آف پښتو لېنګويج




او لټرېچر نوم ورکړے شوے دے. دغسې اليکټرانکس او فزکس هم په انسټي ټيوټ آف اليکټرانکس او فزکس کښې ضم کړي شوي دي، آرکيالوجي او انتراپالوجي په انسټي ټيوټ آف آرکيالوجي اينډ انتراپالوجي سټډيز کښې، سوشل ورک او جنډر سټډيز په انسټي ټيوټ آف سوشل ډيولپمنټ کښې مدغم کړي شوي دي.

په دې نوټيفيکېشن کښې د دې اقدام اوچتولو دپاره دا وجوهات بيان شوي دي:

ترجمه: د ښۀ نظم و نسق او د يونيورستۍ د افرادي او مادي وسائلو د بهتر استعمال دپاره د متعلقه ادارو په صلاح وائس چانسلر د لاندينو شعبو د تنظيم و تشکيل نو منظوري ورکوي او ورسره د دغو شعبو وسائل، واجبات، استاذان، نوره عمله، شاګردان او زېر ساخت InfraStructure هم نويو شعبو ته د منتقلولو حکم ورکوي. دغه شعبې به خپل تعليمي پروګرام د نويو شعبو لاندې جاري ساتي.

د دې نوټيفيکېشن په ذريعه چې کوم ډيپارټمنټونه خپلو کښې ضم کړي شوي دي هغوي له دا نامې ورکړې شوې دي :

دې انسټي ټيوټ آف اسلامک اينډ عربک سټډيز: پروفېسر ډاکټر قبله اياز.

دې انسټي ټيوټ آف اردو اينډ پرشين لېنګويج اينډ لټرېچر: پروفېسر ډاکټر نذير تبسم.

دې سنټر آف پشتو لينګويج اينډ لټرېچر: پروفېسر ډاکټر راجولي شاه خټک.

دې انسټي ټيوټ آف الېکټرانکس اينډ فزکس: پروفېسر ډاکټر فضل الرحمان سبټي.

دې انسټي ټيوټ آف سوشل ډوېلپمنټ سټډيز: پروفېسر ډاکټر سارا صفدر.

دې انسټي ټيوټ آف ارکيالوجي اينډ انټراپالوجي: پروفېسر ډاکټر محمد فاروق سواتي.

د نورو ډيپارټمنټونو د چئيرمېنانو له خوا خو تر اوسه په دې فېصله د څهٔ ردعمل اظهار په اخبارونو کښې زما تر نظره نهٔ دے راغلے او نهٔ ثوک د دې خلاف عدالت ته تللي دي. البته د پښتو اکېډمۍ ډائريکټريس ډاکټر سلمٰي شاهين صاحبه د دې فېصلې خلاف کورټ ته تللې وه. د روزنامه مشرق د خبر مطابق هغې په خپل دائر کړي درخواست کښې دا موقف اختيار کړے ؤ چې په اوولسم ستمبر ۲۰۰۹ وائس چانسلر زهٔ د خپلې عهدې نه لرې کړې يم او زما په ځائے ئې پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک مقرر کړے دے. په يو دېرشم تاريخ عدالت د دې خلاف حکم امتناعي جاري کړے وۀ خو د هغې باوجود هغه بحال نهٔ کړې شوه. نو عدالت د توهين عدالت په جرم کښې د پېښور يونيورسټۍ وائس چانسلر، رجسټرار او ډاکټر راجولي شاه خټک ته نوټس جاري کړے دے.

دا د پېښور يونيورسټۍ يوه انتظامي مسئله ده خو چونکې پښتو اکېډمي په نولس سوه پينځهٔ پنځوسم کښې او پښتو ډيپارټمنټ په کال ۱۹۶۱ کښې قائم شوے ؤ ځکه نو داسې وئيلے شو چې پښتو ډيپارټمنټ د پښتو اکېډمۍ له ګېډې راوتے ؤ. پښتو اکېډمۍ په ټوله دنيا کښې ډېر زيات شهرت حاصل کړے دے. د اکېډمۍ سره د شاعرانو او اديبانو او عام پښتنو ټولو مينه بې ځايه نهٔ ده ځکه چې پښتو اکېډمۍ د پښتو ژبې، ادب، ثقافت او تاريخ په حواله ډېر کار کړے دے. ځکه د دې فېصلې نه پس د ځنو شاعرانو او اديبانو له خوا په دې فېصله په اخبارونو کښې مختلف قسمه بيانونه راغلي دي چې پکښې نامتو ليکونکي لکه ډاکټر محمد همايون هما، ډاکټر محمد اعظم اعظم، محترم سليم راز او محترم سعد الله جان برق وغيره شامل دي. دغسې د پښتون سټوډنټس فيډرېشن له خوا هم څهٔ داسې قسمه بيانونه مخې ته راغلي دي چې هغوي په دې ادغام خفه دي. البته د پښتون سټوډنټس فيډرېشن (آزاد ګروپ) موقف د هغوي نه مختلف دے، دغسې د ځنو شاعرانو او اديبانو هم په دې مسئله اختلاف شته.

ډاکټر محمد اعظم اعظم چې دا وخت د اکېډمي اديبات پېښور څانګې ډائريکټر دے او د ادبي مقام نه ئې ټول پښتانهٔ خبر دي او پخوا د پېښور يونيورسټۍ ډين هم پاتې شوے دے هغهٔ د پښتو اکېډمۍ او پښتو ډيپارټمنټ د ادغام دا اقدام ډېر ښهٔ ګڼلے دے او دا يقين ئې څرګند کړے دے چې دې سره به په پښتو ژبه، ادب او ثقافت او تاريخ چې کوم تحقيقي کارونه کېږي په هغې کښې زياتوالے راشي. هغهٔ ووې چې پښتو اکېډمي او

ډیپارټمنټ د یو بل نه جدا کېدے نۀ شي دواړه د یو بل دپاره لازم او ملزوم دي. هغۀ دا خبره هم کړې ده چې په دې لړ کښې د ذاتي مفادو او نمود او نمائش نه تېرېدل پکار دي البته د ادغام نه پس د ادارې په نوم غور کېدے شي.

د پښتو ژبې مشهور شاعر او دانشور او د پښتو عالمي کانګرس مشر محترم سلیم راز صاحب وئیلي دي چې د پښتو اکېډمۍ او پښتو ډیپارټمنټ دې ادغام سره به پښتو ژبې، ادب او ثقافت ته فائده ورسي. هغۀ وئیلي دي چې د دنیا په ټولو یونیورسټو کښې هم داسې کېږي. اکېډمي او ډیپارټمنټ اوس یو مرکز ته راغلل او دې سره به ژبې، ادب او ثقافت درې واړو ته ګټه رسي او اخراجات به پرې هم کم راځي ځکه چې اول به بیل بیل کار کېدو او اوس به د یو ډائریکټر د مشرۍ لاندې ټول کارونه کولے شي. ښاغلي راز صاحب د وائس چانسلر دا اقدام په ډېرو ښو لفظونو کښې ستائیلے دے او وئیلي ئې دي چې دا قسمه جرات مندانه فېصلې د هر چا کار نۀ دے. هغۀ دا یقین ښکاره کړے دے چې د اکېډمۍ نه سنټر طرف ته دا سفر به جاري وي او د پښتو یونیورسټۍ د قیام پېش خېمه به ثابتېږي.

د شاعر، ادیب او صحافي روښان یوسفزي خیال دے چې د دې دواړو ادارو یو کولو سره به یو مضبوط مرکز په وجود کښې راشي خو کۀ د پښتو اکېډمۍ نوم بدل شوے نۀ وے نو زیاته غوره به وه.

د پښتو ډیپارټمنټ یو زوړ چیئرمین ډاکټر اقبال نسیم خټک وئیلي دي چې د دې دواړو ادارو فطرت مختلف دے د دې یو کول پکار نۀ دي او کۀ داسې وکړے شي نو د دواړو ادارو ترقي به په ټپو ودرېږي.

د پښتون ادارې په دې موضوع یوې نتیجې ته د رسېدو په خاطر د ټولو نه اول د ډاکټر راج ولي شاه خټک سره یوه انټرویو وکړه. ډاکټر راج ولي شاه خټک ووې چې په دې نوټیفیکېشن کښې ګڼ ډیپارټمنټس خپلو کښې Merge کړي شوي دي خو ختم کړي شوي نۀ دي. دغسې پښتو ډیپارټمنټ او پښتو اکېډمي ئې هم خپلو کښې مدغم کړي دي. د پښتون د دې سوال په جواب کښې چې دا یو ډېر لوئے قدم اوچت کړے شوے دے وائس چانسلر صاحب به د دې څۀ وجوهات ضرور ښئیلي وي او خاص کر د پښتو اکېډمۍ چې یوه ډېره زړه اداره وه د هغې او پښتو ډیپارټمنټ د مدغم کولو ئې څۀ وجه ښئیلي ده؟ ډاکټر راجولي شاه خټک ووې کله چې عبدالعلي خان د پېښور یونیورسټۍ وائس چانسلر مقرر شو نو هغوي ووې چې دا خو داسې صورت حال دے چې ریسرچ په یوه روان دے او ټیچنګ په بله روان دے، یو مضمون دے، نو دا ښه خبره نۀ ده کۀ تاسو وایئ چې مونږ دې وده وکړو نو د کلاس روم چې کومې مسئلې دي کۀ د اہم اې وي



کۀ د ايم فل وي کۀ د پي ايچ ډي وي چې هغه ريسرچ ته لاړې شي او هلته نه تازه ريسرچ کلاس روم ته راشي نو دا ټيچنګ او ريسرچ به سره يو ځائے روان وي. د ډېرو مخالفتونو باوجود هغوي دا دواړه اداري خپلو کښې مدغم کړې. دا ۱۹۷٤ خبره ده کله چې هغوي په وړومبي ځل وائس چانسلر جوړ شوي وو. د دې ادغام نه د هغوي مقصد دا ؤ چې دا هلکان او دا سټاف هم ريسرچ کښې مهارت حاصل کړي او هم په درس او تدريس کښې تجربه حاصله کړي. هغوي به وئيل چې دا نوي ځوانان تاسو په ريسرچ کښې مشغول کړئ ځکه چې دا اداره د دې دپاره جوړه شوې ده.

د پښتون د دې سوال په جواب کښې چې کله عبدالعلي خان دا دواړه خپلو کښې مدغم کړل نو هغه وخت د دې اکېډمۍ ډائرېکټر ؤ او کۀ نۀ؟ ډاکټر راج ولي شاه خټک ووې چې نه هغوي ډائرېکټري په خپله واخسته او دواړه اداري د هغوي په مشرۍ کښې چلېدې. هم هغه ئې ډائرېکټر ؤ او هغه وخت کښې به ريسرچ او ټيچنګ شريک روان وو خو د هغوي وخت ډېر لږ ؤ ځکه نو چې هغوي څۀ کول غوښتل هغه تر سره نۀ شو. د پښتون د دې سوال په جواب کښې چې کله عبدالعلي خان دا دواړه اداري خپلو کښې مدغم کړې نو د دې نوم څۀ ؤ؟ ډاکټر راجولي شاه خټک ووې چې هغه وخت د دې نوم پښتو اکېډمي ؤ. د پښتون د دې سوال په جواب کښې چې د دې کار فائده به څۀ وي؟ ډاکټر صاحب ووې چې ما خو درته د عبدالعلي خان خبره وکړه چې دا کار د ټولو نه وړومبے هغوي کړے ؤ او هغۀ سره به د دې وجوهات هم وو او فائدې به ئې هم ورته معلومې وې ځکه چې هغوي ته هر څوک ماهر تعليم وائي او په دې کښې هيڅ شک نشته. زۀ به خپله درته د دې دا فائده بيان کړم چې په يو بلډنګ کښې په کېدونکي ريسرچ کښې تۀ خپل سټاف او شاګردان شامل نۀ کړې، په ډېټا راغونډولو کښې هغوي حصه دار نۀ کړې او د نورو ډيپارټمنټونو نه خلق راغواړې چې د هغوي د پښتو سره هيڅ کار هم نۀ وي او په هغوي ريسرچ کوې نو دا به ښه خبره وي؟

د پښتون د دې سوال په جواب کښې چې ډاکټر سلمٰي شاهين دا نوټيفيکېشن د پښتو اکېډمۍ ختمول ګڼي، ډاکټر صاحب ووې چې په کال ۲۰۰۸ کښې سلمٰي شاهين پخپله د فېکلټۍ ډين ته يوه چيټۍ نمبر 167/P/Acad dated 01.07.2008 ليکي چې پښتو اکېډمي او پښتو ډيپارټمنټ دواړه خپلو کښې مدغم کول ډېر ضروري دي ځکه چې پښتو ډيپارټمنټ د پښتو اکېډمۍ يوه برخه ده. د پښتون د دې سوال چې د ادغام نه پس چې دې اداري له سنټر آف پښتو لينګوېج اينډ لټرېچر په ځائے زوړ نوم پښتو اکېډمي کېښودے شي نو ستاسو به پرې څۀ اعتراض وي او کۀ نۀ؟ په جواب کښې ډاکټر صاحب



ووې چې زما پرې هيڅ اعتراض نشته بلکې زۀ د هغو پښتنو مشرانو او شاعرانو اديبانو سره ملګرے يم چې څوک د پښتو اکېډمۍ نوم ختمول نۀ غواړي.

د پښتون د دې سوال په جواب کښې چې مونږ په شخصياتو کښې انټرسټ نۀ لرو، مونږ د ادارو استحکام غواړو. زمونږ غرض دا دے چې دا خبره سياسي مسئله پېدا کولے شي مخالفين به دا وائي چې د پښتنو په حکومت کښې پښتو اکېډمي ختمه کړې شوه. ډاکټر راجولي شاه ووې پکار نۀ ده چې د دې نه سياسي مسئله جوړه کړې شي څکه چې دا د يونيورسټۍ يوه انتظامي مسئله ده او وائس چانسلر د يونيورسټۍ په مفادو کښې کړې ده.

د ډاکټر سلمٰي شاهين نه چې مونږ د دې ادغام په حقله پوښتنه وکړه نو هغې ووئيل چې زۀ ترې بېخي خبر نۀ وم، وائس چانسلر صاحب ديارلس ډيپارټمنټ خپلو کښې سره مدغم کړل او په هغې کښې پښتو اکېډمي او ډيپارټمنټ هم راغلل. حالانکې د پښتو اکېډمي ادغام پکار نۀ ؤ څکه چې پښتو اکېډمي خپل Statutes لري. د پښتون د دې سوال چې دا ستاسو په وړنا شوي دي ډاکټر سلمٰي شاهين ووې چې ما په هغه خپله چيټۍ کښې دا ليکلي دي چې پښتو ډيپارټمنټ د پښتو اکېډمۍ يوه برخه ده څکه نو دا دواړه يو کړئ. هسې دا چيټۍ په يو بل Context کښې ليکلې شوې وه. هغه وخت په پښتو ډيپارټمنټ کښې څۀ جګړه روانه وه. اوس خو دا دواړه يعني ډيپارټمنټ او اکېډمي دواړه ختم شوي دي. ما دا نۀ وو ليکلي چې دا دواړه دې په سنټر کښې بدل شي بلکې دا مې غوښتل چې پښتو ډيپارټمنټ دې په پښتو اکېډمۍ کښې مدغم کړے شي. د پښتون د دې سوال په جواب کښې چې دا وخت تاسو سره سټاف څومره ؤ، سلمٰي شاهين ووې چې سټاف کم ؤ خو مونږ له ئې سټاف نۀ راکولو او ډيپارټمنټ له ئې سټاف ورکولو او دا هر څۀ په يو پلاننګ کېدل. د پښتون د دې سوال چې د دې خط ليکلو ضرورت څۀ ؤ په جواب کښې ډاکټر صاحبې ووې چې زما خيال ؤ چې دوي داسې کول غواړي نو ما دا خط وليکلو چې ډيپارټمنټ دې اکېډمۍ سره کړے شي. دا قانون دے چې کومه اداره Statutes لري هغه به په بله اداره کښې نۀ مدغم کېږي د پښتون د دې سوال په جواب کښې ډاکټر صاحبې ووې چې او دا قانون دے چې وړې ادارې به په لويو کښې مدغم کولے شي. سکالران او اکاډميسين چرې دا نۀ غواړي چې اکېډمي دې په سنټر کښې مدغم کړے شي.

د پښتون د دې سوال په جواب کښې ډيپارټمنټ دې په اکېډمۍ کښې مدغم کړے شي نو ډاکټر راجولي شاه خو ستاسو نه سينئير دے بيا به هم د هغۀ حق جوړېږي چې هغه ئې مشر شي سلمٰي شاهين ووې چې هغه دې راشي زما پرې هيڅ اعتراض نشته. زۀ خو وايم چې هر څوک راولي خو اکېډمي دې ختموي نۀ. د پښتون د دې سوال په جواب کښې چې تاسو ته ډاکټر راجولي شاه خټک د پراجېکټونو حواله کولو وئيلي وو سلمٰي شاهين ووې چې او، خو ماته ورته انکار کړے ؤ څکه چې دا پراجېکټونه ماله راکړي شوي دي او ما دا ليکل ورکړي دي چې زۀ به په دې پراجېکټونو کښې هيڅ نۀ اخلم.

د پښتون د دې پوښتنې چې تاسو د نسخو د preservation په لړ کښې پراجيکټ کوم ځائے ته

رسولے دے، ډاکټر صاحب ووې چې مونږ ډېر کار کړے دے. هلکان مې ارکایوز ته ټرېننګ له لېږلي وو هغوي ټرېن شوي او راغلي دي، زیات کار شوے او لږ پاتې دے.

د اکېډمۍ ختمېدو سره به څۀ نقصانات وشي؟ د پښتون د دې پوښتنې جواب کښې ډاکټر صاحب ووې چې دا د قوم امانت دے، د خلقو ورته سترګې دي، عام سړے پرې پوهېږي، څلورپنځوس کاله ئې کار کړے دے، په هر چا ئې ځان منلے دے.

دې خبره کښې هیڅ شک نشته چې پښتو او پښتانۀ دواړه د حالاتو د جبر ښکار دي. زمونږه مجموعي قومي، سیاسي، ادبي او معاشرتي ژوند د المیو د تصویرونو شمېر ډېر زیات لري. هم دا وجه ده چې نن پښتو او پښتانۀ د ژوند په سفر کښې د نورو قومونو څنګ ترڅنګ رسېدو نه پاتې دي. داسې ډېرې مسئلې دي چې د پښتنو د تعمیري امورو مخه ئې نیولې ده او زمونږه خطا دا ده چې مونږ د معروضي حقائقو د ادراک او د تجزئې ضرورت محسوسولو نه ډډه کړې ده، هم دا وجه ده چې هره مسئله د هوارېدو په ځائے زیاته شوې ده.

د پښتو اکېډمۍ او د پښتو ډیپارټمنټ د انضمام فیصله خالصتاً د پښتنو او د پښتو یوه ذاتي مسئله ده چې ورته سیاسي په هیڅ تشریح نۀ شي وئیلے کېدے. دې مسئلې سره البته زمونږ مستقبل ضرور تړلے شوے دے. دا خبره د څۀ شک نه مبرا ده چې د قومونو په ژوند کښې د ادارو حېثیت د شخصیاتو نه مقدم وي او دا هم یو حقیقت دے چې د مستحکمو او مضبوطو ادارو په نتیجه کښې د قومونو د ودې لارې پراخه کېږي، مونږ دپاره دا د ډېرې زیاتې خوشحالۍ خبره ده چې د اکېډمۍ او ډیپارټمنټ د انضمام دغه قضیه کښې د دواړو طرفو نه د هم دغه جذبې اظهار شوے دے چې واقعتاً ډېره زیاته د اطمینان او د تعریف خبره ده. محترمې سلمٰي شاهین په ډېرو ښکاره ټکو کښې دا خبره کړې ده چې د هغوي واحد مرام دا دے چې د پښتو اکېډمۍ (چې یو تاریخي حېثیت لري) نوم ورکېدو لاره ونیسي. هغوي دا هم وئیلي وو چې د هغوي دې خبرې سره هیڅ دلچسپي نشته چې د دغې اکېډمۍ مشري انتظامیه چا لـه ورکوي. بنیادي مقصد دا دے چې اکېډمي خپل تاریخ سره محفوظ پاتې شي. هم دا شان ډاکټر راج ولي شاه خټک د دغو جذباتو اظهار کړے دے چې کۀ د سنټر نوم ختمېږي او د اکېډمۍ د بېنر لاندې د پښتو ادب او ژبې د ودې دپاره د سنټر د مقاصدو د روح مطابق کار کېږي نو هیڅ بده خبره نۀ ده، ځکه چې نومونه د ادبي کار په لاره کښې خنډ جوړول نۀ دي پکار او ټول طاقت د یو علمي او ادبي انقلاب دپاره استعمالول ضروري دي.

د دغـه بحث نـه دا نتیجـه پـه ډېـره اسانۍ راووځي چې د دواړو طرفو اتفاق د اکېډمۍ د نوم ترحده خامخا شته او دې خبره کښې څۀ شک هم نشته چې اداري د نومونو په وجه کارونه نۀ کوي، بلکې د خپل مېنډېټ په بنیاد کارونه کوي. دا هم ثابته ده چې د مېنډېټ او د ټرم آف رېفرنس په بنیاد د اختلاف ذکر دواړو طرفو نه نۀ دے شوے.دا مسئله کۀ د نوم ده نو د حل کېدو امکان ئې بهر حال شته. مونږ دا غواړو چې د ژبې او ادب د ودې لارې دې په یوه یا یه بله طریقه جاري وي. د وائس چانسلر د نوټیفیکېشن نه پس پېدا شوي حالات څۀ دومره کړکېچن نۀ دي چې زمونږ حوصلې خرابې کړي. مونږ په دې امر د اطمینان اظهار کوو چې دواړه طرفو ته د اکېډمۍ د نوم او د پښتو په حقله د خلوص اظهار کېږي او چرته چې خلوص موجود وي هلته د اصلاح لار هر وخت خلاصه وي.